قاصد
QASED
Strategic Research Center

# ۸مه ګڼه

(۲۷ جون – ۳ جولای ۲۰۱۹م)
(۶ – ۱۲ سرطان ۱۳۹۸ هـ ش)

## د جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور




www.qased.org
info@qased.org
077 281 58 58


قاصد د ستراتیژیکو څېړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري او دغه اوونیز راپورترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لوروپام راړول دي.

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹ مېلادي کال د جون له ۲۷مې د جولای تر ۳مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د چنګاښ له ٦مې تر ۱۲مې) پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د اوښتې مرګژوبلې شمېرې رانغاړي.

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې د دولت د وسله‌والو مخالفينو او ملکي خلکو په تلفاتو کې د تېرو اوونيو په پرتله کموالی راغلی؛ خو افغان ځواکونو ته بيا درنه مرګژوبله اوښتې ده.

دلته په ترتيب سره افغان ځواکونو، د دولت وسله‌والو مخالفينو، ملکي خلکو، او حکومتي کارکوونکو ته د اوښتې مرګژوبلې شمېرې او جزئيات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

په تېره اوونۍ کې افغان ځواکونو ته د وسله‌والو طالبانو په بريدونو، مخامخ جګړو او چاودنو کې مرګژوبله اوښتې ده:

**د جون ۲۷مه:**

د سرپل ولايت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او طالبانو د وسله‌والې نښتې پرمهال د دغې ولسوالۍ د ملي امنيت آمر او ۲ سرتېري وژل شوي دي.

**د جون ۲۸مه:**

د دايکنډي ولايت د کجران ولسوالۍ په پډګګ سيمه کې د پوليسو پر پوستو د وسله‌والو طالبانو د بريدونو له امله ۸ پوليس وژل شوي او ١٦ نور ټپيان شوي دي.

د غزني ولايت په ده‌يک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د بريد له امله ۴ پوليس وژل شوي او ۳ نور ټپيان شوي دي.

په کندوز ښار کې د وسله‌والو طالبانو په بريد کې ۱ پوليس وژل شوی.

د هلمند ولايت په ناوه ولسوالۍ کې د طالبانو د بريد له امله ۱ پوليس وژل شوی او ۱ ټپي شوی دی.

د هلمند ولايت په ګرمسېر ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په بريد کې ۱ پوليس وژل شوی او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د پکتیا ولایت د احمدآباد ولسوالۍ په مچغلو سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۲ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

**د جون ۲۹مه:**

د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په زیارت سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱۰ پولیس وژل شوي او ۲۸ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې د سیمه‌ییزو پولیسو او د دولت د وسله‌والو مخالفینو د وسله‌والې نښتې له امله ۲۶ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت په شهرک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله د یوه پولیس په ګډون ۵ محلي پولیس وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت په تخته‌پول ولسوالۍ کې د  طالبانو په برید کې ۱۴ پولیس وژل شوي دي.

د بلخ ولایت د کشنده ولسوالۍ په جر خشک سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د مخامخ جګړې له امله ۲ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په سپوان سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې ۳ افغان سرتېري وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جون ۳۰مه:.**

د فاریاب ولایت په قرمقول ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۲ پولیس وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۱۱ پولیس وژل شوي او ۲۷ نور ټپیان شوي دي.

په پکتیا ولایت کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۲۱ پولیس وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په ګرېزوان ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۲ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت په شولګره ولسوالۍ د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۱ محلي پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندوز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په قرغان تپه سیمه کې ۸ سرحدي او ۵ محلي پولیس وژل شوي او ۸ سرحدي پولیس ټپیان شوي دي.

د تخار ولایت په تالقانو ښار کې د ماین د چاودنې له امله ۵ پولیس وژل شوي دي.

د پکتیا ولایت په څمکنیو ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۵ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای لومړۍ:**

د طالبانو له لوري د جوزجان ولایت د قوش‌تېپې ولسوالۍ د سقوط په پېښه کې ۵۰ پولیس سرتېري وژل شوي او ۲۵ نور ټپیان شوي دي.

د کابل ښار په ۱۶مه ناحیه کې د دفاع وزارت د لوجستیک ریاست دروازې سره د موټر بم چاودنې له امله ۳۹ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت د پشتونکوټ ولسوالۍ په نذیر آباد سیمه کې د یو لړ نظامي عملیاتو پر مهال ۱ پولیس وژل شوی او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت په اندخوی بازار کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې له امله د دوه سیمه‌ییزو پولیسو په ګډون ۴ پولیس وژل شوي دي.

د بادغیس ولایت په بالا مرغاب ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید پرمهال ۳ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي. همدارنګه په آب کمري ولسوالۍ کې ۱ سیمه‌ییز پولیس ټپی شوی دی.

د بادغیس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ٦ پولیس وژل شوي دي چې درې پولیس او درې د ملي اردو سرتېري وو.

د فاریاب ولایت په اندخوی بازار کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۲ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۲ سرحدي پولیس ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ په باچا سیمه کې ۲ محلي پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲مه:**

د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په چورچي سیمه کې د عامه نظم پولیسو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پر مهال ۲ د عامه نظم پولیس ټپیان شوي دي.

د غور ولایت د شهرک ولسوالۍ په چشمه سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید پر مهال ۳ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د تخار ولایت په تالقانو ښار کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۱ د ملي امنیت سرتېری وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت په پشتونکوټ ولسوالۍ کې د ځانیزو عملیاتو پرمهال د ماین د چاودنې له امله ۵ پولیس وژل شوي او ۹ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په بغلان مرکزي سیمه کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر کاروان برید کړی، چې ۱ پولیس وژل شوی او ۳ نور ټپیان شوي دي.

په کندوز ښار کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۱ پولیس وژل شوی دی.

**د جولای ۳مه:**

د غور ولایت په ساغر ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۱۵ افغان ځواکونه وژل شوي چې دوه پکې پولیس او دریارلس نور سیمه‌ییز پولیس دي.

د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې د پولیسو د ګزمې پر مهال ۱ پولیس وژل شوی او ۱ ټپي شوی دی.

په کندوز ښار کې وسله‌والو طالبانو د تلاشۍ پر یوې پوستې برید کړی، چې له امله یې ۱ پولیس وژل شوی دی.

د هرات ولایت په رباط سنګي ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۵ سرحدي پولیس وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت د پلخمري ښار په چشمهٔ شېر سیمه کې د طالبانو د برید له امله ٦ پولیس وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د جوزجان ولایت د قوش تپې ولسوالۍ له سقوط وروسته د دغې ولسوالۍ د ملي امنیت آمر او پنځه منسوبین د همدغه ولایت په درزاب ولسوالۍ کې د طالبانو په یوه کمین کې وژل شوی او دوه نور ټپیان شوي دي.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۴۵ | ۱۴ | ۵۹ |
| پوليس | ۲۴۸ | ۱۹۸ | ۴۴٦ |
| مجموعه | ۲۹۳ | ۲۱۲ | ۵۰۵ |

## د دولت د وسله‌والو مخالفينو مرګژوبله

په تېره اوونۍ کې د دولت وسله‌والو مخالفينو ته د افغان ځواکونو د پوځي عملياتو او افغان او بهرنيو ځواکونو په هوايي بريدونو کې مرګژوبله اوښتې ده:

**د جون ۲۷مه:**

د پکتيا ولايت په وازې خوا، وړ ممی او متاخان ولسواليو کې د وسله‌والو نښتو پرمهال ۱۷ وسله‌وال جنګيالي وژل شوي دي.

د سرپل ولايت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د جون ۲۸مه:**

د دايکندي ولايت د کجران ولسوالۍ په پدګګ سيمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې له امله ۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپيان شوي دي.

د غزني ولايت په ده‌يک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د لوګر ولايت په خرخ ولسوالۍ کې د هوايي بريد له امله ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د فارياب ولايت په پشتونکوټ ولسوالۍ کې د هوايي او ځمکنيو بريدونو له امله ۱۷ وسله‌وال جنګيالي وژل شوي دي.

**د جون ۳۰مه:**

د بلخ ولایت په شولگره ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو د هوایي برید له امله ۴۵ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي

په پکتیا ولایت کې د وسله‌والو طالبانو او امنیتي ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۳۰ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د جولای لومړۍ**

د جوزجان ولایت په قوش‌تیپه ولسوالۍ کې د وسله‌والې نښتې له امله ۳۰ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲مه:**

د کندهار ښار په شپږمه ناحیه کې ۱ کس  چې غوښتل یې ځانمرگی برید وکړي، د پولیسو لخوا په ډزو وژل شوی دی.

د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په چورچي سیمه کې د عامه نظم پولیسو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پر مهال ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۹ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په مرکز کې د طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱ کس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۳مه:**

د فاریاب ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې د افغان ځواکوتو د ځانیزو عملیاتو پرمهال ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**جدول : د دولت د وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۹۵ | ۲۵ | ۲۲۰ |
| داعش | - | - | - |
| مجموعه | ۱۹۵ | ۲۵ | ۲۲۰ |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله

د افغان ځواکونو او د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګژوبلې ترڅنګ په تېره اوونۍ کې ملکي وګړو هم مرګژوبله لرله، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**د جون ۲۷مه:**

د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې د سړک پر غاړې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د جون ۲۸مه:**

د سمنګان ولایت په کارته مجاهد سیمه کې د جمعې د لمانځه پرمهال په جومات کې د یوه ځای پرځای شوي ماین د چاودنې له امله ۱۱ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د پکتیا ولایت د ګردې څېرۍ ولسوالۍ په سرو خېل سیمه کې د پولیسو په برید کې ۲ ملکي وګړي وژل وژل شوي دي.

**د جون ۲۹مه:**

د میدان وردګو ولایت د چک ولسوالۍ په نیک پایقول سیمه کې د افغان ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې ۹ ماشومان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ په نو آباد سیمه کې د پولیسو په برید کې ۱ ملکي وګړی وژل شوی او ۱ بل ټپي شوی دی.

**د جولای لومړۍ:**

د کابل ښار په ۱٦مه ناحیه کې د دفاع وزارت د لوجستیکي ریاست دروازې سره د موټر بم چاودنې له امله ۱ ملکي وګړی وژل شوی او ۹۳ نور ټپیان شوي دي.

په کندهار ښار کې د سړک غاړې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۱ ملکي وګړی وژل شوی دی

**د جولای ۲مه:**

د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ په شهرنو سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د راکټي برید له امله ۲ ماشومان وژل شوي دي.

**د جولای۳مه:**

د پکتیا ولایت په ځمکنیو ولسوالۍ کې د کرکټ پر لوبغالي د هاوان مرمۍ د لګېدو له امله ۲ ماشومان وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د کندوز ښار د دربیمې امنیتي حوزې اړوند سیمه کې د یوې چاودنې له امله ۱ ملکي وګړی وژل شوي او ۳ نور ټپيان شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۳۲ | ۱۰۷ | ۱۳۹ |
| مجموعه | ۳۲ | ۱۰۷ | ۱۳۹ |

## حکومتي کارکوونکو ته مرګ‌ژوبله

**دجون ۳۰مه:**

د خوست ولایت د ګربزو ولسوالۍ پخوانی امنیه قوماندان او په ولسي جرګه کې د خوست استازي کمال ناصر اصولي ورور د همدغې ولسوالۍ د برحاله ولسوال د کورنۍ له غړو سره په یوه نښته کې وژل شوی او ۲ ساتونکي يې ټپيان شوي دي

د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله د ټاکنو کمیسون ۸ تنه کارکونکي وژل شوي دي.

**جدول ۴: حکومتي کارکوونکو ته اوښتې مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| حکومتي کارکوونکي | ۹ | ۲ | ۱۱ |
| مجموعه | ۹ | ۲ | ۱۱ |

## پایله

د تېرې اوونۍ راپور ښیي، چې د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د چنګاښ  له ٦مې تر ۱۲مې (د جون له ۲۷مې د جولای تر ۳مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۸۷۵ تنو ته مرگ‌ژوبله اوښتې ده. د یادولو وړ ده، چې په تېره اوونۍ کې د وړاندې اوونیو خلاف د دولت د وسله‌والو مخالفینو او ملکي وګړو په مرگ ژوبله کې کموالی راغلی؛ خو افغان ځواکونو ته بیا په دې اوونۍ کې درنه مرگ ژوبله اوښتې او دا اوونۍ د افغان ځواکونو لپاره د ۲۰۱۹ کال تر ټولو خونړۍ اوونۍ وه. (جدول-۵).

**جدول ۵: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۲۹۳ | افغان ځواکونه | ۲۱۲ |
| د دولت وسله‌وال مخالفین | ۱۹۵ | د دولت وسله‌وال مخالفین | ۲۵ |
| ملکي وګړي | ۳۲ | ملکي وګړي | ۱۰۷ |
| حکومتي کارکوونکي | ۹ | حکومتي کارکوونکي | ۲ |
| **مجموعه** | **۵۲۹** | **مجموعه** | **۳۴٦** |
| **ټول وژل شوي او ټپیان** | **۸۷۵** | | |

پای